تمهید سیلانی
۲۰۲۰/۰۳/۲۳

# په پښتو، دري، انګلیسي، ترکي، فرانسوي او روسي ژبو کې

## د صفت او موصوف دریځ

## لومړی برخه

د دې لیکنې په تداوم او نورو برخو کې تاسو ګرانو لوستونکو ته د ستاينوم پر ځانګړنو، ډولونو، جوړښتونو، توصيفي روستاړو، د ستاينوم او نوم پر پیژندنې او توپیر او له نورو ژبو سره د پښتو ژبې دستاینوم پر جوړښت او پرتلنې معلومات در وړاندې شي . نورې لیکنې مې مه هیروئ.

مخکې تر دې چې په یادو ژبو کې د صفت او موصوف په کارونې او دریځ خبرې وکړم، لازمه ګڼم چې لوستونکو ته په لنډه توګه ستاينوم ورپېژنم. له څو ورځو را په دې خوا د پښتو ژبې لیکل شوي ګرامرونه لولم، پرتله کوم يې، خو ما ته په یو ګرامر کې هم دستاینوم داسې پېژندنه را تر سترګو نه شوه چې زما قناعت پرې حاصل شي. بلاخره دې ته اړ شوم چې د نورو ژبو ګرامرونه ورپسې ولټوم. زه په دې برخه کې د پوهاند خویشکي صاحب او زیار صاحب له لیکل شویو ګرامرونو د ستاينوم پېژندنې را اخلم. (( هر څه په خپل ذات کې یونوم یا نومونه ده دا چې په بېلابېلو حالتونو او موقیعتونو کې د کلام خپلواک توکي ( ستاينوم،نومځري، مصدر، ټاکندوی ) څه وخت او کله د ستاینوم، نومځري، فعل، ټاکندوی مفهوم راخپلوي هغه په جمله کې معلومېدای شي.)) ( خویشکی، محمد صابر. پښتو ګرامر. ۲۰۲ مخ )

(( ستاینوم په خپلواک ډول څه نه نوموي، بلکې د یو څه څرنګوالی نوموي؛ یا پله بله وینا، یو ستاینوم په یو ځېز نوم آره لري. هغه ټاکي او څرنګوالی يې ښيي.)) ( زیار،مجارو احمد. پښتو پښويه. ۹۹ مخ )

که لومړی پېژندنې ته ښه ځیر شو، نو لیدل کیږي، چې دغه پېژندنه مبهمه او د ستاینوم استازیتوب نشي کولی. یو لوستونکی په ځانګړې توګه د لیسانس زده کړیال نشي کولی چې ستاینوم له یادې پېژندنې څخه وپېژني. دویمه پېژندنه یو څه د غور وړ برېښي او کولی شي څه ناڅه د ستاينوم استازيتوب وکړي. خو په بشپړه توګه د ستاينوم استازيتو نشي کولی او یا هم په کره توګه ستاینوم نشي پېژندلی. څکه کومې ځانګړنې چې په ستاينوم کې تر سترګو کيږي، هغه په یاد تعریف کې نه ترسترګو کیږي. زه ستاينوم په مطلق ډول نوم،کلمه او مورفیم نه ګڼم. ځکه که نوم يې وګڼو، نو له نوم سره توپیر په څه کې دی او څنګه کولی شو له نوم سره توپیر وکړو؟ ددې ترڅنګ باید د نوم او ستاينوم له پاره ځانګړې قواعد او ځانګړتیاوې ولرو. که کلمه يې وګڼو نو له کلمې سره يې باید د بېلتون کرښې معلومې شي او که مورفیم يې وګڼو، نو باید خپلواک مورفیم ورته وویل شي، خو دا باید هېره نه کړو چې دمورفیم او ستاينوم تر منځ د بېلتون کرښې څنګه واضع کړو. زه ستاینوم توصیفي کلمې، نومونه او خپلواک مورفیمونه ګڼم. دا توصيفي کلمې پر بل نوم، نومځري، فعل، ستاينوم او ځيزونو ور زياتيږي او دهغوی ځانګړنې، څرنګوالی او ستاينه کوي او د یادو توکو د معانیز پراخ والي لامل ګرځي. یاده پېژندنه کېداشي نیمګړتیاوې ولري، خو ما ته په یاده پیژندنه کې تر ډېره حده د ستاينوم مفهوم څرګندیږي.

### په پښتو ژبه کې د صفت او موصوف دریځ:

ستاینوم په خپل ذات کې ډېرې ځانګړنې، ډولونه، قواعد او جوړښتونه لري، چې په دې لیکنه کې زه یوازې د پښتو ژبې دصفت او موصوف پر دریځ او نورو ژبو سره دهغه په پرتلنې بحث کوم. لومړی په پښتو ژبه کې د صفت او موصوف په دریځ خبرې کوم. په پښتو ژبه کې صفت بېلابېل دریځونه لري، کله تر نوم د مخه او ځینې وخت له نوم وروسته راځي او د فرانسوي ژبې په څېر صفت د جنس له مخې ګرانېدونکی دی. موږ په پورته پېژندنه کې وویل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

چي ستاینوم پر نوم، صفت، نومځري، فعل او ځېزونو علاوه کیږي او د یادو توکو معانیز پراخ والی را منځته کوي.
لکه:

۱ ــ ښه هلک ، سور گل ، لوړه ونه، ښکلی بڼ... په دغه ترکیبونو کي ( ښه، سور، لوړه او ښکلی ) توصیفي کلمي دي، چي ځیني يي په عین وخت کي نومونه هم دي، لیکن په مطلق ډول ورته نوم نه شو ویلی. نو ځکه مو ورته توصیفي کلمي وکارولي. ( هلک، گل، ونه او بڼ ) نومونه دي. چي لومړی برخي ته صفت او دویمي برخي ته موصوف ویل کیږي .

۲ ــ زما ښکلي ویښتان... دده لوړه ونه.... زموږ کور ښکلی دی. زمو د علي پراخه حجره ده. زما غږ خوږ دی. په دغه جملو کي ستاینوم له نوم څخه وروسته راغلی دی. خو توپیر يي له لومړیو بیلگو سره څه دی؟ په دغو بیلگو کي د فاعل یا نومځري ستاینه او څرنگوالی کوي. یعني نومځری مودیفای کوي. دا ډول بیلگي موږ په انگلیسي او نورو ژبو کي هم موندلی شو

۳ ــ احمد ورو خبري کوي. علي کراره گرځي. ته سم لیکل کوي. محمود ژر ولاړ. تېزه منډه کوي،په دغو جملو کي ستاینوم له فعل سره کارول شوی دی. خو ځیني ژبپوهان په یادو جملو کي ( ورو، کراره ، سم، ژر او تېزه ) قید گڼي. خو زه دا ستاینوم گڼم، ځکه که دقید قواعدو ته پام وکړو نو دلته یادي برخي د قید له جوړښت سره تطابق نه کوي. خو دا ویلی شو، چي په یادو جملو کي ستاینوم دقید دنده ترسره کولی شي، خو هېڅکله یادي کلمي قید کېدلی نشي.

### په پارسي دري ژبه کي د صفت او موصوف دريځ:

په پارسي دري ژبه کي دعربي ژبي په شان معمولا ستاینوم تر نوم وروسته راځي، خو په ځینو مواردو کي له نوم د مخه هم راتللی شي. په دري ژبه کي د توصیفي روستاړو په کارولو سره تر نوم د مخه راځي لکه: زیباترین خانم جهان، داناترین پسر مکتب... سیاه ترین بازی کن... په دغو بیلگو کي ( زیباترین، داناترین و سیاه ترین ) ستاینومونه دي او ( خانم، پسر و بازی کن) نومونه دي. په یادو جملو کي ستاینوم تر نوم د مخه راغلی دی. ددي ترڅنگ ځینو نورو وختونو کي هم ستاینوم تر نوم دمخه راتللی شي، لکه : کور ذهن، تاریک خانه، سیاه چشم، خوش کلام، زیبا صورت، سفید چهره ... همدارنگه ځینو نورو برخو کي هم کېداشي تر نوم د مخه راشي، خو په تولیزه توگه په پارسي دري ژبه کي قاعده دا ډول ده،چي صفت تر موصوف وروسته راځي. لکه : آدم خوب.خانه ی قشنگ، آلوی ترش، شخص شریف... په دغو بیلگو کي ( خوب، قشنگ، ترش، شریف ) توصیفي کلمي دي او ( آدم، خانه، آلو، شخص) نومونه گڼل کیږي.

### په ترکي ژبه کي د صفت او موصوف دريځ:

په ترکي ژبه کي هم د ځینو هندو اروپايي ژبو په څېر، صفت تر موصوف د مخه راځي. په دې ژبه کي د انگلیسي ژبي په څېر صفت تر موصوف دمخه راځي، هغه په داسي حال کي چي لومړی ستاینوم راځي او وروپسي نوم پرته له کوم روستاړي څخه راځي. لکه ( beyaz saray :قصر سفید، سپينه ماڼی )، ( büyük araba لوی ماشین، ماشین بزرگ )، ( genç erkek ځوان هلک، جوان پسر )، ( güzel ad اسم زیبا، ښکلی نوم ). په پورته توصیفي ترکیبونو کي ( beyaz، büyük، güzel، genç )توصیفي کلمي یا ستاینومونه دي او ( saray، araba، ad، erkek)نومونه دي. په دغو ترکیبونو کي صفت تر موصوف د مخه راغلی دی.

### په انگلیسي ژبه کي د صفت او موصوف دريځ:

په انگلیسي ژبه کي ستاینوم د پښتو او ځینو نورو ژبو په شان له نوم د مخه او وروسته راځي. په یاده ژب کي ستاینوم له نوم څخه مخکي د نوم دستاینی له پاره راځي. لکه:

### لومړی له نوم څخه مخکي:

A big house لوی کور، خانه بزرگ
A good teacher ښه استاد، استاد خوب
A young man مرد جوان، ځوان کس
په پورته ترکیبونو کي (big,goog,young )توصیفي کلمي یا ستاینومونه دي او ( house, teacher, man ) نومونه دي. په یادو ترکیبونو کي صفت تر موصوف د مخه راغلی دی.

### دویم له نوم وروسته:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

په انګلیسي ژبه کې ستاینوم له نوم څخه وروسته راځي، خو په دې بڼه کې ستاینوم د فاعل دستاینې له پاره کارول کیږي. لکه :

My house is big خانه من بزرگ است، زما کور لوی دی .

Mike's car is new. د میک موټر نوی دی. موتر میک جدید است

This coffee tastes good. ددې قهوې خوند ښه دی. لذت این قهوه خوب است.

په پورته جملو کې (big,new,good) توصیفي کلمې یا ستاینومونه دي، چې د فاعل ستاینه کوي او له نوم څخه وروسته راځي.

## په فرانسوي ژبه کې د صفت او موصوف دریځ ( La place des adjectifs ):

په تولیزه توګه په فرانسوي ژبه کې ستاینوم تر نوم وروسته راځي. خو په ځینو موارردو کې د پارسي دري ژبې په پشان ستاینوم تر نوم د مخه هم راتللی شي. په یاده ژبه کې ستاینوم د پښتو ژبې په شان د جنسیت او جمع و مفرد له مخې ګردانیږي. هغه دا چې که چیرې نوم مذکر وي، نو ستاینوم هم د مذکر نوم مطابق کارول کیږي او که چیرې نوم مونث وي نو ستاینوم هم مونث نوم ته په کتو سره کارول کیږي. همدارنګه د جمع و مفرد موضوع هم د مذکر و مونث په بڼه ګردانیږي.

### لومړی: هغه ستاینومونه چې مخکې له نوم څخه راځي، د بېلګې په توګه:

une jolie fille

یک دختر زیبا، یوه ښکلې انجلۍ

une nouvelle maison

یک خانه نو ، یو نوی کور

په پورته ترکیبونو کې ( jolie )، (nouvelle) توصیفي کلمې دي،چې له نوم څخه د مخه راغلي دي او ( fille )، ( maison نومونه دي چې وروسته له ستاینومونو څخه راغلي دي:

### دویم : هغه ستاینومونه چې وروسته له نوم څخه راځي، د بېلګې په توګه:

Une pomme verte یک سیب سبز (مونث)، یوه شنه مڼه

Un vélo noir یک دوچرخه سیاه (مذکر) یو تور بایسکل

په پورته ترکیبونو کې ( verte )، ( noir ستاینومونه چې وروسته له نومونو څخه راغلي دي او ( pomme )، vélo (نومونه دي چې مخکې له ستاینومونو څخه راغلي دي.

### د پښتو، پارسي، ترکي، انګلیسي، فرانسوي او روسي ژبو کې صفت او موصوف پرتلنه:

۱ ــ په پښتو، ترکي، انګلیسي او روسي ژبو کې په تولیزه توګه صفت تر موصوف د مخه راځي. خو برعکس په پارسي دري او فرانسوي ژبو کې په تولیزه توګه صفت تر موصوف وروسته راځي.

۲ ــ په پښتو او فرانسوي ژبو کې صفت د جنس او جمع و مفرد له مخې ګردانیږي، چې دا قاعده په انګلیسي، ترکي او دري ژبو کې نه ترسترګو کیږي.

۳ ــ په پښتو، دري انګلیسي او فرانسوي ژبو کې داسې ستاینومونه هم شته چې له نومونو مخکې راځي، خو تولیزه قاعده یې داسې نه ده.

۴ ــ په پښتو او انګلیسي ژبو کې د صفت او موصوف راتګ تر ډېره یو شان دی، هغه داچې هم له نوم څخه مخکې راځي او هم له نوم څخه وروسته راتللی شي. همدارنګه کله چې په دغو دواړو ژبو کې صفت تر موصوف وروسته راشي، نو په دغه حالت کې صفت د نوم پرځای د فاعل ( ضمیر ) ستاینه کوي. چې په ترکي ژبه کې دا ډول قاعده نه تر سترګو کیږي.

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ